مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۰/۰۲/۲۷

# ډیوه



مورړ پخپله پخپل منځ کې ډیوه مړه کړه
په لوی لاس مو په ځانونو توره شپه کړه

هغوی وخندل له څنګ سره مو تېر شول
مورړ چې توره د خپل ورور په وینو سره کړه

ستا د شونډو د شربت په تنده مړ دی
اوس سایه خو د اوربل دې پرې خوره کړه

ما ګدا بې اعتنا ولید پاچا ته
ما زاهد ولید پیسو ته یې سجده کړه

ستا نعمت په لته ووهي جاهل شي
لویه خدایه یوه حوره ورښکاره کړه

یا ښکلا د پښتنې دغې ته ورکړه
یا د دې احساس خاونده پښتنه کړه

د جنت لارې به لنډې کړم پخپله
یو ملګری سم د لارې راسره کړه

د رواج زړه کلا کې راګیر شوي
موږه ورکه د وتلو دروازه کړه

ته پخپله څراغ ولګوه ځان ته
ای سحره د وختونو ژبه زده کړه

۱۳۹۱ /۴/ ۱۹
لمر تلویزیون



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ